د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه 8 شوال، ۱۴۴۵هـ　　۲۰۲۴/۰۴/17م　　ګڼه: ح.ت.افغ 14/۱۴۴۵

**مطبوعاتي اعلاميه**

## د حاکم نظام لخوا خلافت ته د دعوت په جرم د حزب التحرير – ولايه افغانستان د وياند او يو شمېر غړو توقيف کېدل

د حزب التحرير – ولايه افغانستان وياند، استاد سيف‌الله مستنير او يو شمېر غړي د ۱۴۴۵هـ.ق کال له شعبان مياشتې راهيسې د امنيتي ځواکونو له لوري توقيف شوي دي. د دوی جرم يوازې دا دی چې د نبوت پر منهج خلافت دولت د اقامې لپاره يې دعوت او فعاليت کاوه. دا نيونې د«**خلافت؛ د نبوت سياسي ميراث**» تر سرليک لاندې د خلافت د سقوط ۱۰۳مې کليزې په مناسبت تر جوړې شوې غونډې وروسته شوې. دې ته ورته غونډې په ډېری اسلامي خاورو او همداراز د افغانستان په ځينو ولايتونو کې جوړې شوې وې.

استاد سيف‌الله مستنير د امت له شريفو بچيانو دی چې د خلافت دولت د بيا احياء لپاره يې هڅې کولې. استاد مستنير د اشغال پر مهال د فکر او سياست په ډګر کې له پياوړو مبارزينو څخه و چې په نه ستړې کېدونکې توګه يې د سلګونو اعلاميو، مقالو، سياسي تحليلونو د ليکلو او په تلويزيوني بحثونو کې د ګډون له لارې د اشغال جنايتونه او د جمهوريت توره کارنامه په صراحت بربنډوله. له بده مرغه، په حاکم نظام کې استاد مستنير او د حزب يو شمېر غړي په دې جرم په توقيف کې دي چې د خلافت د سقوط ـ چې د مسلمانانو په تاريخ کې يوه دردناکه حادثه ده ـ يادونه يې کړې او د امت د بيا ځلې عظمت، شان او شوکت لپاره يې هڅې کړې دي. ايا د خلافت دولت د احياء او د مسلمانانو د فکري، سياسي او جغرافيوي وحدت لپاره دعوت جرم دی؟ که هو، نو د کوم شرعي قانون له مخې؟ اړتيا ده هغه دولتونه چې ځان اسلامي بولي، د دغې ورځې يادونه وکړي او امت ته د خلافت دولت ارزښت بيان کړي؛ خو نه يوازې دا چې دغه کار نه دی شوی، هغه کسان هم مجرم ګڼل شوي چې د شرعي وجيبې په توګه دا کار کوي!

﴿**أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ ۝ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ**﴾ [قلم: ۳۶-۳۵]

**ژباړه:** *«ايا مومنان، مجرمين ګڼو!؟ پر تاسو څه شوي؟ دا څنګه پرېکړه کوئ!؟»*

چا چې د نيولو امر کړی او هغو چې د توقيف عمل يې ترسره کړی؛ کاش يو ځل يې له تعصب پرته د حزب التحرير د دعوتګرو پيغام اورېدلی او ژړ فکر يې پرې کړی وای؛ بيا به يې له شک پرته د دغو دعوتګرانو د نيولو پر ځای له هغوی سره د خير د دغه ستر پيغام په حمل کې مرسته کړې وای. په حقيقت کې، هغه دعوت چې حزب التحرير يې حمل کوي؛ د الله سبحانه و تعالی له لوري فريضه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم بشارت دی؛ دا د هر مسلمان مکلفيت دی چې د خلافت دولت د اقامې، د اسلام د بشپړ او هر اړخيز تطبيق او حمل، د مصنوعي پولو د له منځه وړلو او د امت د وحدت لپاره کار وکړي.

حزب التحرير د نږۍ تر ۴۰ زياتو هېوادونو کې فکري او سياسي فعاليت لري. نن ورځ د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس؛ په ځانګړې توګه علماء، قومي مشران، جهادي او سياسي رهبران او ځوانان د حزب التحرير دعوت پېژني او له فکر او طريقې څخه يې خبر دي. چا چې له تعصب پرته د حزب منهج درک کړی، ښه پوهېږي چې د حزب التحرير پيغام او فعاليت د افغانستان د مسلمان ولس لپاره ګواښ نه، بلکې خير دی چې ريښه يې په اسلام کې ده او د فلاح او نهضت سبب کېږي.

حاکم نظام بايد د اسلامي ارزښتونو ساتونکی او په ټولنه کې د دعوتګرانو د هڅو تسهيل کوونکی وي. برعکس، په دغو توقيفونو سره ثابتوي چې حاکم نظام د خير لور ته د دعوت په لار کې خنډ دی. نو موږ له خپلو مجاهدو ورونو غواړو چې ژر تر ژره د حزب التحرير دعوتګران خوشي کړي؛ ځکه چې د نيولو لپاره يې هيڅ شرعي دليل نشته.

**وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ [البروج: ۸]**

**ژباړه:** *«او د دوی په نزد د هغوی (مومنانو) يوازينی ګناه دا وه چې پر عزيز او حميد الله يې ايمان راوړی و»*

د يادونې وړ ده چې د الله سبحانه و تعالی په اذن دا ډول نيونې په هېڅ صورت د حزب د جمعي او مطبوعاتي فعاليتونو مخه نه شي نيولی، بلکې د قوي العزيز رب په مهربانۍ د هرې ورځې په تېرېدو د دعوت شدت او قوت زياتېږي او الحمدلله دننه او بهر زرګونه مسلمان افغانان د دغه دعوت حاملين دي. دا ډول هڅې پخوا د عربو، منځنۍ اسيا او ان پرځېدلي جمهوريت د جابرو حکامو لخوا هم تجربه شوې، خو دغه ناوړه مکر يې بېرته دوی ته ورګرځېدلی. نو د حزب التحرير د دعوت مخه مه نيسئ؛ هسې نه چې د اخرت په ورځ مو دا عمل د « **صدوا عن سبيل الله**» مصداق شي، په دغه سبب درووند بار يوسئ او د هغو کسانو له ډلې شئ چې د نبوت پر منهج ثاني راشده خلافت د تاسيس لپاره د دعوت خنډ کېدل. هغه خلافت چې د الله سبحانه و تعالی وعده او د رسول الله صلی الله عليه وسلم بشارت دی. موږ پوهېږو چې د افغانستان حاکم نظام د نړۍ په کچه تر بل هر نظام زيات پر خلافت د بدلېدو ظرفيت لري؛ نو تمه مو دا ده چې د نبوت پر منهج خلافت دولت ستنې د افغانستان مجاهدين کېږدي.

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾** [نور: ۵۵]

**ژباړه:** *«الله سبحانه وتعالی له هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي، وعده کړې چې هرو مرو به هغوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي؛ لکه چې هغو کسانو ته يې خلافت ورکړی و چې له دوی څخه مخکې وو.»*

**د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**